ډاکټر ثواب الدین مخکښ

۲۰۱۵/۰۲/۰۹

تاریخ بیا جنرال نورالحق علومي ازمایي

د ښاغلي نورالحق علومي راتګ اوبیا د هیواد په ارزښتناک اوخورا مهم وزارت کي دوزیر په توګه ټاکل کیدل دې ته اړکړم چې هغو ځوانانو اوځینو پخوانیو ته چې د نوموړي له تیر څخه پوره مالومات نه لري یو څه ولیکم ترڅو د نوي نسل پام وي چې هیواد او ولس یې بیا د توطیو کندې ته ورونه غورځول شي اوپه هوښیارۍ اوپوره ځیرکتیا د خپل ولس اوخاورې څارنه اوساتنه وکړي. د ښاغلي نورالحق علومي په بیوګرافي ډیر څه نه لیکم ځکه هرچیرته شته مګر د نوموړي اجراتو اوتیر به تر ځیرنې لاندې ونیسو.

ښاغلی نورالحق علومي پښتون بارکزی دکندهارولایت دی له سیاسي پلوه پرچمي و په ۱۹۶۶ کي له کابل پوهنتون څخه فارغ په روسیه اومتحده ایالاتو کي یې زده کړې کړې دي نوموړي د جلال اباد په جګړه کي د مجاهدینوپه ماته کي ستر رول درلود چې له دې وروسته د کندهار والي شو، کله چې د کندهار والي شو د افغانستان د دولت د ملي مصالحې د پروسې سره د مرستې په خاطر یې د کندهار په حکومتي چارو او پالیسیو کي د پام وړبدلونونه راوستل. د وخت جمهورریس ډاکټر نجیب الله یې وهڅولو ترڅو د دوستم ملیشي له کندهاره وایستل شي . د کندهار وزګار ځوانان یې دیته وهڅول چې د علومي صاحب له ګروپونو سره یوځای شي اود کندهار دفاع وکړي. د ځینو منځلارو مجاهدینو د ځینو بندیانو د پریښودو غوښتنې یې ومنلې او د ځینو مجاهدینو د مخدره موادو د قاچاق په چارو کي یې لاسوهنه ونه کړه. علومي د ځینو اسانتیاو په مقابل کي مجاهدین په دې قانع کړل ترڅو دوی په کندهار کي په حکومتي منسوبینو حملې کمې کړي.علومي د دې کار په بدل کي مجاهدینو ته نغدې مرستې ورکړې او دوی ته یې اجازه ورکړه څو په کندهار کي خپلو کورونو ته تګ راتګ وکولی شي. د سید احمد ګیلاني د محمدزئ میرمني په مټ یې وکولی شو له ګیلاني سره اړیکې ټینګې کړي او د ګیلاني زوی حسن یې کندهار ته د مذاکراتو لپاره وروغوښت. همدارنګه علومي وتوانید ګل اغا شیرزی د بارکزي توب اونغدو پیسو په مټ ځان ته رامایل کړي د یو شریک پلان له مخې یې ګل اغا شیرزی دې ته تیار کړ چې د کندهار په هوایي ډګر به د هغه پلان سره سم چې د شیرزي اوعلومي ترمینځ جوړشوی و حملې کوي .او په مقابل کي به دعلومي ځواکونه ټک ټوک اوخال خال ډزونه کوي ترڅو د پاکستان ای ایس ای باوري شي چې ګل اغا شیرزی په کندهار هوایي ډګر عملیات کوي .چې د دې کار په مقابل کي به ګل اغا شیرزي ته د ای ایس ای لخوا وسلې او خوراکي توکي ورکول کیدل اوبیا به شیرزي د علومي په اجازه هغه د کندهار په بازار کي خرڅول. د یادونې وړده چې په هغه وخت کي د جهاد ډیر امکانات د ای ایس ای لخوا په مجاهدینو ویشل کیدل اوله هماغې
ورځې یې هغو مجاهدینو ته چې د افغانستان تاسیسات یې ښه ورانول ډیره وسله اومهمات او نور امتیازات ورکول.

ښاغلی علومي وروسته له دې چې د کندهار زون یا جنوب ختیځ زون د تنظیمه ریس په توګه وټاکل شو د ارکان حربي د زده کړو د بشپړیدو لپاره شوروي اتحاد ته ولیږل شو. د هیواد د سیاسي اوامنیتي حالت د کړکیچن کیدو له امله بیرته راوغوښتل شو د تنظیمه ریس دنده یې پرمخ بوتله. کله چې د وخت له واکمنو (د ډاکټر نجیب الله احمدزي په وخت کي) د قدرت د انتقال موضوع وه له دې څخه څومیاشتې مخکي نورالحق علومي له دندې لیرې کړی شو اوبهر ته ولیږل شو. مګر کله چې وخت راورسید چې د ملګرو ملتونو د پنځه ماده ییز پلان سره سم د قدرت لیږد او د سولې پلان عملي شي ښاغلي نورالحق علومی، محمود بریالی، جنرال نبي عظیمي (په هغه وخت کي د کابل ښار د ګارنیزون قوماندان او د دفاع وزارت مرستیال)، عبدالوکیل خارجه وزیر، بابه جان اوځینو نورو په مټ د ملګرو ملتونو پلان سبوتاژ اوهرڅه یې دپه اصطلاح مجاهدینو په غیږ کي دقدرت دانتقال په مانا ورواچول. چې جنرال نبي عظیمي په ډیر جرات اوبشاشه توګه بې له دې چې په خپلو اوږو نظامي ستوریو ته پام وکړي د حضرت صبغت الله مجددي په مشرتابه، د احمدشاه مسعود د دفاع په وزارت د اسلامي دولت مبارکي وویله اود ټولو وسله والوځواکونو په استازولی یې مبارکیاني وړاندې کړې، له وسله والو ځواکونو یې وغوښتل چې د مجاهدینو له اسلامي دولت اود کابل ښار له نظامي اوامنیتي کمیسون سره مرسته وکړي.اړینه ګڼم چې د جنرال نبي عظیمي په هکله لږ رڼا واچوو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

زموږ د مهال ځوانانو اوځینو نورو له دې جریان څخه ناخبره پخوانیو ته باید واضح شي چې جنرال نبي عظیمي هغه څوک وچې نوموړي اوملګرو یې دهیواد دشمال دولتي ارګانونه،دیوې معاملې په بنسټ چې سناریو یې بهرنیانو جوړه کړې وه د جنرال دوستم، حزب وحدت اوشورانظاراوځینو نورو قوماندانانو په واک کې ورکړل .د جنرال عظیمي له امله سالنګونه، پروان او د بګرام هوایي ډګر د احمدشاه مسعود تر ولکې لاندې راغلل. نوموړي د محمود بریالي په مټ د جمهور ریس او د وسله ځواکونو د اعلی سرقوماندان بې اجازې د جنرال دوستم او شورای نظار ملیشې د الوتکو له لارې کابل ته رالیږدولې اودکابل هوایي ډګر یې ددوی په تصرف کې ورکړ.دجمهور ریس ټیلیفوني مزې یې پرې کړل او د دوی د دغه کودتایي عمل له امله جمهور ریس مجبور شو ترڅو دملګرو ملتونو د اسګاپ په دفتر کې پناه واخلي. جنرال نبي عظیمي هغه څوک وچې په ۲۶ حمل ۱۳۷۱ کال کې ددوستم ملیشې دالوتکو په مټ کابل ته راتلې اونوموړي دکابل دګارنیزون دقوماندان اوددفاع وزارت دمرستیال په توګه له دې پروسې سره مرسته کوله اوچوپ خوله پاتې و. رازمحمد پکتین دوخت دکورنیو چارو وزیر جمهور رییس ته په کابل هوایي ډګر دملیشو دراښکته کیدو خبر ورکړ. ښاغلي جمهور رییس له جنرال نبي عظیمي،اصف دلاور(لوی درستیز) اوجنرال عبدالفتاح(دهوایي ځواکونو قوماندان، اودهوایي مدافع ځواکونو قوماندان)څخه پوښتنه وکړه چې دې ملیشو ته دکابل په هوایي ډګر کې دراښکته کیدو اجازه چاورکړې ښاغلي جمهورریس همدغو جنرالانو ته ددغه کار دتوقف اومخینوي لارښوونه و کړه مګر دوی ونه منله اوخپل کار ته یې دوام ورکړ. دوستم چې دجمهور رییس له لارښوونې څخه یې سرغړونه کړې وه دهمدوی په ډاډ په کابل هوایي ډګر خپلې ملیشې راکوزې کړې .

داچې ښاغلي علومي څنګه د ملګروملتونو پنځه ماده ییز پلان سبوتاژ کړ اوڅنګه جمیعت اسلامي ته ژمن پاتې شو جریان یې په لاندې

ډول دی :

د کابل ټول ولس او نور خلک د دې شاهد دي څنګه چې ښاغلی جمهورریس نجیب الله احمدزي د ملګرو ملتونو په دفتر کې پناه واخسته نورالحق علومي د یوې الوتکې په مټ له المان څخه په داسې حال کې چې په احتیاط کې و اوکومه نظامي برحاله دنده یې نه درلوده په یوه نیمه ورځ کې هیواد ته راستون شو ،هیواد ته له رارسیدو سره سم د کانټینینټل هوټل ته لاړ او مطبوعاتي کنفرانس کې یې شرکت وکړ چې البته مخکې له مخکې پلان اوطرح شوی و.همدغه مطبوعاتي کنفرانس کې له ښاغلي علومي څخه د بي بي سي یو ژورنالست پوښتنه وکړه ." تاسو ترکوموشر ایطو لاندې اسلامي جمیعت ته تسلیم شوی؟"

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښاغلي علومي ورته وفرمايل: زموږ سترو ايتلافونو ته تسليمي مه واياست، افغان بل افغان ته نه تسليميږي، موږ ايتلاف کړی تسليم شوي نه يو.همدا اوس مې د لويديځو، جنوب لويديځواو ختيځو ولاياتو د امنيتي وضعيت په هکله ډاډ ترلاسه کړ.....
د نوموړي له کنفرانس سره موازي عبدالوکيل د يو بل مطبوعاتي کنفرانس له لارې وويل:

تاسو به وګورئ چې موږ له خپلو مجاهدو ورونو سره څنګه د کابل له ښاريانو دفاع کوو. ډاکټر نجيب الله مصالحه نه کوله، يوازې خبرې يې کولې ، له چاسره مصالحه ؟ تاسو وليدل چې موږ څنګه مصالحه وکړه .ما نن له ورور مسعود سره ليدنه وکړه .....
تاسو هيوادوالو بيا وليدل چې عبدالوکيل، بابه جان، اصف دلاور، اونورو مجاهدو ملګرو يې څنګه د کابل له شريفو ښاريانو دفاع وکړه او يازره کابليان يې شهيدان اوکابل يې په کنډواله بدل کړ.

د هر رهبر، چارواکي اومشرښه والی اوبدوالی د هغه په ژمنتيا اوعملي لاسته راوړنو پورې تړلی وي که چيرې يې دخپلې ژمنتيا سره سره په عمل کې ثابته کړه چې ولس، خپلې ،خاورې،ځمکنۍ بشپړتيا،ملي حاکميت،ملي يووالي اونوورملي ارزښتونو ته ژمن دی اوهم يې داژمنتيا په عمل کې ثابته کړه بس بيا دښه رهبر ، ښه مشر دځانګړنې اودده ترمنځ دومره واټن نه وي.د۱۹۹۲ کال هغه سياسي- نظامي حرکت چې ښاغلي نورالحق علومي اوملګرو يې ترسره کړ دومره وينې توی کړې چې موږ اوسنی نسل يې شاهدان و، هيواد يې داسې فجيع حالت ته بوتللو چې مجاهدين اوورستي جنګسالاران يې د قابوکولو نه و او د هيواد هربچی اوهره لورترننه دتيکاو اودايمي سولې تږې اوتندغرې دي . ښاغلی علومي داچې تاسې د هغه عمل چې په ۱۹۹۲ کال کې ترسره شو په عواقبو اوپايلو پوهيدلی اوکه نه؟مګر دادی تاريخ يو ځل بيا چانس درکړ ترڅو هغه تشې اوزړه بوږنونکې اشتباه ګانې رفع اوملت ته په رښتينې ډول ديو وطن پال اوژمن سرباز په ډول خدمت وکړئ اوتاريخ په خپله ګټه راوڅرخوئ ډيرې پخواني او اوسني مطرح څيرې اوسياسي شنونکي وايې : هغه کودتا چې د اپريل مياشتې کال ۱۹۹۲ کې دخدای بخښلې ډاکټر نجيب الله احمدزي د دولت په ضد ترسره شوه، د دې هيواد په ګټه نه وه.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ